کوش تېپې لویې ویالې پروژه د افغانستان اسلامي امارت یوه ارزښناکه پروژه ده چې وتېزه (اقتصــادي)، ټولنیز، چاپېریالي، ســیاســي، ملي او نړیوال ارزښــت لري. د دې پروژې د ســتر ارزښــت په پام کې نیولو ســـره، اړینه ده چې د پیل څخـه تر پـایـه پورې د هغې ټول بنســـتیز پړاوونه، چې د شـــونتیا لوســـتي، بشـــپړ خور ډیزاین، برابول (تدارک) پړاوونه، ترون، ودانیز، د پروژې مدیریت او د پلي کولو څارنه په کې شامل دي. د واکي او ربښت سره سم، سرغندو ښکاروندو او منل شوي اینجینیري پر بنسټ اړینه ده ترسره شي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د امریکا د متحده ایالاتو نړۍ والې پراختیایي اداري (USAID) په مرسته د کوش تېپې ویالې پروژې د سویم پروګرام (SWIM) تر سپرې (چتر) لاندې د شونتیا لوستي ترسره کړي او د دغو لوستي وروستی راپور په ټوټو، ټوټو توګه وړاندې شوی دی او د ٢٠١٩ زیږدي په پای کې بشپړ شوی دی.

د ځینو دلایلو له مخې د پروژې د عملي کړنه د پلي کولو پړاوونه د پروژې د تخنیکي لوستو او ډیزاین له پاینې کېدو او بشپړېدو مخکې پیل شوي دي.

د ودانیزو چارو د طرحې او ډیزاین ریاست چې د چارو اداري لوی ریاست تر سپرې (چتر) لاندې کړنې سرته رسوي، په دې پروژه کې د ترونکونکي (ملي پرمختیا کمپنی یا NDC) د ډیزین کتنې، د تخنیکي اندونو او یادونو د وړاندې کولو دنده په غاړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

کمپنۍ د پروژې په لومړي پړاو کې د لويې ويالې لومړي پل ( فاز) کېندنه له ټکي ښخه پيل او تر ۱۰۸ کيلومېترو پورې د لويې ويالې ترون له نوموړې کمپنۍ سره تړل شوی دی. د (۲۹۴۹) نيټې د ۱۴۴۳/۱۲/۲۹ (۱۴۰۱/۵/۶) ګڼې فرمان له مخې د وزيرانو لوی رياست ( رياست الوزرا) درانه مقام لويې ويالې د کېندلو او د طرحې د پلي کول و منل او د پروژې لومړي پل د ودانيزې برخې چارې يې ملي پر مختيا کمپنۍ ته و سپارلې. نوموړې کمپنۍ پرې خپلې کړنې پيل کړې.

## بنسټ

دندي دغه رښت چې ګڼه يې (۲۹۴۹) ده او په دې ۱۴۴۳/۲۹/۱۲ نيټې فرمان د دوېيمې بند پر بنسټ د کوش تپې لويې ويالې پيلني پل ودانول او ډيزاين د ترون له لارې د پلي کولو په اړه جوړ شوی دی. د چارو اداري لوی رياست د مالي او اداري مرستيالي (۱۳) ګڼې ۱۴۴۵/۱/۸ نيټې غونډې د پرېکړې پر بنسټ او همداراز د پروژو د انسجام او څارنې رياست د (۶۹) شمېرې ليک چې په دې ۱۴۴۵/۱/۱ نيټه خپور شوی اوډون شوی دی.

يادونې وړ ده، چې د کوش تپې لويې ويالې پروژې د شونتيا لوستي د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د سويم پروګرام له خوا د امريکا د متحده ايالاتو د پرمختيايي اداري په مالي مرسته ترسره شوې ده بشپړ شوي دي. د نوموړې وزارت د سويم پروګرام ياد شوو سندونو موندنې او سپارښتنې د پروژې پيلني پلانونه ګڼل کېږي او د پروژې راتلونکي پړاوونه اړين د هغې پر بنسټ سر ته رسول کېږي. له همدې امله، ډېری توکي چې د دندو په رښت کې شتون لري. د شونتيا لوستي (شونې کېدو څېړنې) دا سندونه او وړانديزونه د سويم پر بنسټ په پام کې نيول شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډکړنو ته د فردوس ځنډکړنې.**

## ۶. ۱ د کوش تپې لويې ويالې پروژې په اړه

لکه څنګه چې پورته يادونه و شوه، د SWIM پروګرام د کوش تپې ويالې (کلدارې لويې ويالې) پروژې له پاره د شونتيا لوستې ترسره کړې. که څه هم د دې پروژې وروستى شونتيا راپور چې په رسمې ډول د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له خوا منل شوى وې، شتون نه لرې، خو د راپور د هغو برخو پر بنسټ چې په غير رسمې او غير رسمې بڼه شتون لرې، اړوند سرته رسونې ترسره شوې دې.
د شونې وړ لوستې ( څېړنو) کې تخنيکې، وټيزې او مالې اړخونه، د اوبو لګولو، د برېښنا پيداور، د چاپېريال او سويېګټې (تاوان) مننې ارزونه، پايښت پراختيا، نخښې، ځانګړې ځانګېرنې، بشپړ د بيې اټکلونه د نورو لارو ملې ملاتړ شننې ګډون لرې.

د کوش تپې لويې ويالې چې سروندى (اينټيک، بند، سر) يې د بلخ ولايت د خوم ولسوالۍ اموسين ژۍ سره د کلدارې ولسولۍ ختيځ لورې ته د کلدارې زړې ويالې سره ځاى پر ځاى شوى دى، د امو سين څخه اوبه څښې يا ترلاسه کوې. د کلدارې ولسوالۍ له ځمکو، د اورګاډې د پټلۍ، حيرتان کابل له لويې لارې، د دولت اباد، بلخ ولسوالۍ له دښتو او اکچې (آقچې) ولسوالۍ له پرتو اوارو سيمو څخه تېرېږې او د فارياب ولايت اندخوى ولسوالۍ ته رسېږې. د دغې ويالې ټول اوږدوالى د بلخ ولايت له کلدار ولسوالۍ څخه د فارياب ولايت اندخوى ولسوالۍ پورې شا او خوا ۲۳۸ کيلومېتره دى.

د کوش تپې لويې ويالې څخه داسې فکر کېږې چې د بلخ، جوزجان او فارياب ولايتونو شمالې وچو او شاړو د اوبو اړمنو ځمکو ته چې د اوبو له نه شتون سره لاس او ګريوان دې، ورته به د کرنيزو ګټنې له پاره اوبه و رسوې.
په لومړې پل (فاز، پړاو) کې د لويې ويالې اوږدوالى د نيولو له ټکې يا سروندې ( بند، اينټيک) څخه تر ۱۰۸ کيلومېترو پورې دى. له سروندې څخه تر ٤ کيلومېترۍ کې لويه وياله د شګو غونډيو په منځ کې ځاى پر ځاى ده چې لوړوالى يې د ويالې له غولې څخه ۵۰ مېترو ته رسيږې؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

له ۲ کيلومېترۍ څخه تر ۱۲ کيلومېترۍ پورې، د ويالې لاره ښه اسانه ده؛ له ۱۲ څخه تر ۲۰ کيلومېترۍ پورې د شګو غونډۍ يو څخه نږدې ٦ مېتره د ځمکې څخه پورته غځيدلی دی. له ۲۰ څخه تر ۳۲ کيلومترۍ پورې، د ځمکې چارپېريال ( محيط ) ښه اوار دی؛ سربېره پردې له ۳۲ څخه تر ۳۵ کيلومېترۍ پورې د شګو کوشنۍ غونډۍ شتون لري. په ټوله کې، د لويې ويالې په اوږدو کې شا او خوا ۱۲ څخه تر ۱۳ کيلومترو پورې د شګو غونډۍ شتون لري.

کوش تپې لويې ويالې د جوړولو بنسټيز پړاوونه د سويم SWIM (د اوبو لګولو او اوبو لګولو مديريت پياوړتيا يا Strengthening Watershed and Irrigation Management) د شونتيا لوستې د کوش تپې ويالې د چمتووالي پله ( فازونه، پړاوونه) او پلې کول په څلورو پله يا ( فازونه، پړاوونه) وېشلي دي چې په وينا يې هر پل (پړاو) به ۳ کاله پېر و نيسي او په ۱۲ کلونو کې به بشپړ شي.
د شونتيا لوستې (امکاناتو په مطالعاتو) کې د پروژې پله په داسې ډول اوډون او په پام کې نيول شوي چې دا د لويې ويالې له جوړولو وروسته تر وروستۍ کړنې پورې اړه لري؛ د لويې ويالې د جوړولو په پېر (وخت) کې په پام کې نيولو سره به د لويې ويالې جوړولو بريالۍ اصلي کړنې ترسره کيږي.

### ۶. ۲ د جوړونې چمتوکولو پل (فاز، پړاو)

,, د بشپړ هر اړخيز ډيزاين ترسره کولو او بشپړولو له پاره د بنسټيزو کړنو د جوړونې چمتوکولو پل ( فاز، پړاو) پروژې د لويې ويالې غوره څېرې له پاره د چمتو کولو (تدارکاتو) سندونه چمتوالی ټاکې، چې په کې د پروژې د ټولې سيمې هر اړخيز بشپړ توپوګرافيکې څېړنې، د امو سين د اوبو اندازه کول، د اوبو نمونې اخستل او پلټل شتون لري. نورې جيو تخنيکې څېړنې، د چاپيريال څېړنې، ټولنيز- وټيزې (اقتصادي) څېړنې، د چاپيريال برى ليک ( جواز) ترلاسه کول، د اصلي ويلې سرونډى او د سرونډي ( اېنټيک) د نيولو له پاره د هيدروليک ماډلونو بوږول (جوړول).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړې پل له پاره اړینه ده چې د پروژې د عملي کار پیل کولو څخه مخکې بشپړ شي. د دې پل له پاره د شونتیا وړ څېړنو درې کاله پېر اړتیا لري.

### ۶. ۳ د جوړولو لومړی پل ( فاز، پړاو)

د دې پل ودانیزو کړنو پلې کولو له پاره د شونتیا لوستي پر بنسټ درې کاله اټکل شوی دی. د لويې ويالې بوړول له پیل څخه تر ۱۰۸ کیلومېترۍ پورې؛ سروندی (د اوبو څښلو ځای، سر بند، اېنتیک یا وییر)؛ شاخونه ( دوېیمه درجه لويې ويالې) چې تر ۲۰.۷۵ کیلومېتره اوږدوالی لري، څاروندي ( ریګولیټورې یا د اوبو چټکتیا برابرونکي) ۳ دانې؛ تېریدوني څاروندي ( کراس ریګولیټورې یا د اوبو لیږد چټکتیا په لنډو برابرونکي) ٤ دانې؛ پولونه ۹ دانې (د رېل ګاډي پول، لويې لارې پول، ولسوالۍيو پولونه، د کلیو پولونه)؛ د کروندو سروندي ۲۱٤٥ دانې، د پټۍ یو سروندي ( ۴ درجه ويالې سروندي) ۵۳٦ دانې؛ د کروندو سروندي له کوشنۍ یو پولونو او کلورټونه (۳ درجې ويالې سروندي له پولچکونو یا سورج او کلورټ بېخې کوشني پولچکونه سره) ۲۹ دانې، لويې ويالې څڅوبی (ډراپ یا لویه وایله له خپل سترې بنې څخه کوشني کیدلې بنې ته غورځیدل) ۱ دانه او شاخونو کې څڅوبې ۳ دانې؛ د پیلني پل له پاره د ابو لګولو شبکې ودانول ( له لويې ويالې څخه ۱۱ د اوبو رسولو شاخونه اخستل، له شاخونه یا دوېیمه درجه لويې ويالې څخه ۲ د اوبو رسولو شاخونه اخستل، کروندو یا درېیمه درجه ويالې څخه ۱۵ د اوبو رسولو شاخونه اخستل)؛ پمپ سټیشنونه ١٤ دانې او د لومړي پل (فاز، پړاو) د وېش شبکې.

په دې پل کې ټولټال ۲۷۷۷ بېلابېلې ودانۍ شتون لري. که چیرې په پیلني پل د کوش تپې لويې ويالې له پاره ځینې بشپړې ودانۍ اړینې وګڼل شي، د ډیزاین په پړاوونو کې باید په پام کې و نیول شي. ،، ( سویم، ۲۰۱۹ زیږدی، ۱۳۱ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.

## ۶. ٤ د جوړولو دوېيم پل ( فاز، پړاو)

د دې پل ودانيزو کړنو د پلي کولو له پاره د شونتيا لوستې پر بنسټ درې کاله اټکل شوی دی. د لويې ويالې جوړول ۶۰ کيلومېتره ( له ۱۰۸ کيلومېترۍ څخه تر ۱۶۸ کيلومېترۍ پورې)؛ شاخونه (منځنۍ ويالې) ۷ دانې چې ۵۸ کيلومېتره اوږدوالی لري؛ کروندو ويالې (درېيمه درجه ويالې) ۴ دانې چې ۷۶.۵ کيلومېتره اوږدوالی لري؛ څاروندي ( ريګوليټورې يا د اوبو چټکتيا برابرونکي) ۱۲ دانې؛ پولونه (لويې لارو پولو، ولسوالۍيو پولونه، د کليو پولونه) ۲۵ دانې؛ پټۍيو لښتي ۸،۱۰۴.۰۰ دانې؛ د اوبو پورته کولو اډې (د اوبو پمپولو ستېشنونه) ۹ دانې او دوېيم پل وېشنکې شبکې ۱۰۴ دانې شتون لري. د لويې ويالې دوېيم پل کې ټولټال ۸،۳۳۱.۰۰ ودانۍ شاملې دي.

## ۶. ۵ د جوړولو درېيم پل ( فاز، پړاو)

,, د دې پل ودانيزو کړنو د پلي کولو له پاره د شونتيا لوستې پر بنسټ درې کاله اټکل شوی دی. د لويې ويالې جوړول ۶۸ کيلومېتره ( له ۱۶۸ کيلومترۍ څخه تر ۲۳۶ کيلومېترۍ پورې ( يا دوېيم پل څخه تر پايني پل اندخوی ولسوالۍ پورې)؛ شاخونه (منځنۍ ويالې) ۲ دانې دي چې ۴۲.۷ کيلومېتره اوږدوالی لري؛ کروندو ويالې (درېيمه درجه ويالې) ۱۱ دانې چې ۸۴.۸۸ کيلومېتره اوږدوالی لري؛ څاروندي ( ريګوليټورې يا د اوبو چټکتيا برابرونکي) ۱۴ دانې؛ تېريدوني څاروندي ( کراس ريګوليټورې يا د اوبو لېږد چټکتيا په لنډو برابرونکي) ۱۹ دانې چې (۱ يې پر لويې ويالې، ۱ يې پر ښاخ، ۱۷ يې په دوېيم درجه ويالې )؛ پولونه (لويې لارو پولو، ولسوالۍيو پولونه، د کليو پولونه) ۲۲ دانې؛ پټۍيو لښتي ۶،۳۳۹.۰۰ دانې؛ د اوبو پورته کولو اډې (د اوبو پمپولو ستېشنونه) ۹ دانې او دوېيم پل وېشنکې شبکې ۹۲ دانې شتون لري. د لويې ويالې دوېيم پل کې ټولټال ۶،۵۳۷.۰۰ ودانۍ شاملې دي.،، (سويم، ۲۰۱۹ زېږدی، ۱۳۲ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تېپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څښتکړنو ته د فردوس ځښتکړنې.**

له نيکه مرغه کوش تېپې لويې ويالې د پروژې عملي کړنه (کار) د ملي پرمختيايي کمپنۍ له خوا د جوړونې چمتوکولو پل (فاز، پړاو) پل څخه مخکې پيل کړى دى. دده يې تر دېره د سويوم په د جوړونې چمتوکولو پل (فاز، پړاو) اچولې او د جوړولو لومړى پل ( فاز، پړاو) يې بېنا کړې ( سترګې پرې اچولي يا پيل کړى دى)، تر ۱۰۸ کيلومېترۍ پورې د لويې ويالې کېندلو له بشپړيدو او د اوبو د سروندي د ودانۍ له پرمختګ وروسته، ټرونکونکي کمپنۍ ورو، ورو د پروژې د جوړونې چمتوکولو پل يادونې حس کړې او پريکړه يې کړه چې د بشپړې سروې، توپوګرافي په ګډون د جوړونې چمتوکولو پل يادونې ټولې په پام کې نيولې، خپلې سرې تودې ( تجربې) نوې ساتي، د بشپړولو او لمن ټړلو له پاره يې کوټلې ګامونه پورته کړې دي.

**۶. ٦ کوش تېپې ويالې د ګټې اخستنې وسايلو او توکو لړې کچې مېچه**

**يادونه:** د وسايلو او ماشينونو په برخه کې اړينه ده چې لړ تر لړه کچه په پام کې و نيول شي، خو د ټرونکونکي ټرون دا دى چې د ټاکلي ګڼې کچې له مخې د ماشينونو، نورمونو، پېژند او معلوماتو (ډيټا) ډول، ډول کچو څخه کار واخلي.
ټرون کونکى کولى شي په خپلو کړنو کې له هر ډول وسايلو، ماشينونو، توکو څخه دېر يا لړ کار واخلي چې پرې خپل ټاکل شوى کار له ټاکلي پېر مخکې سر ته رسوي او کنه.
د ټرون لګښت يوازې هغه ټرون کونکى اخلې هغه چې ورته په ټرون کې ټاکل شوى وي او په لاندې لښتيليک کې ښودل شوي دي.

| ګڼه | د وسايلو او توکو سپړنه | ماډل | کچه |
|---|---|---|---|
| ۱. | د توپوګرافي او سروې لوستې وسايل | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څتکړنو ته د فردوس څتکړنې.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ .۱ | د نړۍ پرمختللی ځای موندنې اډه يا ډي جي ايس ستيشن (Station DGP) چې لږ تر لږه تر ۱۰ کيلو مېترو پورې سيمه تر پوښ لاندې نيسي. | Topcon ( ۱۰ km range) | ٥ |
| ۲ .۱ | د ټوټل ستيشن اله ( total station) له ازمويل شوې ستاينليک سره<br>(calibration) | Sokkia im ٥٠ series I Z٠٠ ٨٧٥٦ | ۲٠ |
| ۳ .۱ | د ثيوډوليټ اډه يا ستيشن ( theodolite station) له ازمويل شوې ستاينليک سره (calibration) | Tremble: Digital Theodolite: ٣D Model | ۱ |
| ۴ .۱ | د ليزري ليول الې يا ليزرې ترازو ( level) له ازمويل شوې ستاينليک سره<br>(calibration) | GEO MAX Gramin ٦٤s | ۲ |
| ۵ .۱ | لاسي نړۍ پرمختللی ځای موندنې ټولواله يا لاسي جي پي ايس (GPS hand) له ازمويل شوې ستاينليک سره | Garmin GPSMAP ٦٧i | ۱٥ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱. ۶ | د کچي مېچي توکي (لېزري مېترونه، اوسپنيز او توتني مېترونه ... .) | Bosch GLM – ۱۵۰, ۱۰۰, ۵۰ C | ٤۰ |
| ۱. ۷ | د سمي نخښې يا بېنچ مارک بنسټيز توکي (اوسپنيز سيخ، د پولادو مېخونه، سپري يا بوتل کې سپرې رنګونی) | Local | ۵۰ |
| ۱. ۸ | مېټرولا Motorola<br>غږلېږې يا مخابرې | DP۱٤۰۰ | ٦۰ |
| ۱. ۹ | د سروي بې پيلوټه الوتکې ( د سروې سيوسيوی) | Matrice ۲۱۰ RTK V۲ | ۳ |
| | **۲. د کېندنې ماشينونه** | | |
| ۲. ۱ | پرېکونکې خولې ( Cutter Bucket) د بېلابېلو موخو کړنو ماشينونو له پاره چې د لږې کچې او ډېرې کچې بېلابېلو کچو د کېندنې کړنې سرته رسوي. | SCB-٦۰۰ Slot Cutter Bucket | ۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲. ۲ | هايدروليکي ځيتکونه يا هايدروليکي جاک هامر Hydrologic Jack ) ( Hammer | -ton ٤٠Komatsu Excavator Doosan | ۱۲ |
| ۲. ۳ | د کېندنې له پاره اوګر (Auger) له بېلابېلې کچې او ډولونه. | Borehole Hydraulic Drilling Rig Machine KR٥٠, KR٤٠-۱۲m٤٠kN.m | ٤ |
| ۲. ۴ | د کېندنې برمې ( روټري) (Rotary) | High Efficient Muliti-Functional Construction Rotary Drilling Hydraulic Pile Drilling Rig With CAT Chassis KR۳۰۰C and DL ۳٦۰, Wheeled rotary drilling rig machine for bridge construction | ۲ |
| ۲. ۵ | کيبل لرونکي اېکسکواتور يا هايدروليکي مزې لرونکي | ton ۲۰D, ۳۲۰ | ۱۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | Shovel Hydraulic ) شاول ( Machin | | |
| ۲. ۶ | پرېکاشن (Precaution) | NXY۲, Taber Type Abrasion Tester, ۳۰۰KN Tensile Breaking Strength And Elongation Testing Apparatus Universal Tensile Tester | ٤ |
| ۲. ۷ | د کمپرېسور ماشين (Compressor Machin) | SCR۲۰PM۲: ۱۰-۲۰ HP Rotary Screw Air Compressor with ۱۲۰L Tank, ۳۸۰V, Variable Speed,all-in-one machin | ۲ |

۳. د خاورو اړوند ماشينونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳. ۱ | ويلې کېنونکی (ټرېنچر) يا د کېندنې ماشينونه چې په يوازې ويالې او لښتې بېلابېلو بڼو او کچو کېندونکې. (Trencher) | Agricultural Chain Trencher FOTMA Water Canal Cast Molding and SG۳۸۸F, | ٤ |
| ۳. ۲ | مېخانيکې بېلچه يا اېکسکواتور ( Excavator) | SDLG E۷۱۵۰F earthmoving mini wheeled trench digger cheap ۱۵-ton mini size diggers small wheel excavator for sale | ۱۵ |
| ۳. ۳ | باب کت د کېندنې برمه لرونکی (Bobcat Auger Drill) | BME-۱۰, ۱-ton Micro Small Digger Crawler Excavator and YFL٤۵ | ۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳. ۴ | (Bulldozer) بولډوزر | BULLDOZER SD۲۲ and CMG Official ZL۵۰GN ۵ Ton Front End Wheel Loader | ۵۰ |
| ۳. ۵ | کلامشېل لوډر (Clamshell loader) | Hot Selling Excavator Long Reach Boom Telescopic Robot Arm Excavator Telescopic Arm Clamshell for All Brands; ۲۰۰-٦۰۰ model | ٤ |
| ۳. ۶ | زمکې اوارونکی ماشین یا ګریډر (Grader) | G۹۱٦۵ | ۲۰ |
| ۳. ۷ | خاورې وړنکې لاری یا ډامپر (Damper) | SX۳۳۱۵DT۳٦٦: hacman F۳۰۰۰ X۳۰۰۰ L۳۰۰۰۰ Dump Tipper Trucks ۸x٤ ۱۲ wheels | ٦۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | | |
|---|---|---|---|
| ٤ | Small Crawler Bulldozers with Ripper; D۱٦M unimax | (Ripper) رپپېر | ۳. ۸ |
| ۲ | EPFC۱۲,۰; Track Spider Crane ۱,۲t ۳t ٥t ۸t ۱۲t Lifting Machinery | مزي لرونکی اېکسکواټور ( Cable Type Excavator) | ۳. ۹ |
| ٤. د سیمټو او کانکریټو اچوني ماشینونه | | | |
| ٤ | cbm ۲,۰; ٥,٥ZC self-loading ٤concrete mixer ٦wheels wheels self-loading concrete truck mixer | د کانکرېټو ګډولی یا کانکرېټ مکسر (Mixer Concrete) | ۴. ۱ |
| ٤ | PUTZMEISTER M٤۷-٥ | د کانکرېټو پمپ ( Concrete (Pumps) | ۴. ۲ |
| ۳۰ | CNVR | لړځونکی یا وېبراټور (Vibrator) | ۴. ۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴ .۴ | د کانکرېټو وړونکې ګډولی یا کانکریټ لاری (ټرک) مکسر ( Concrete Mixer Track) | ; Chinese ٤x٦ ٤x٦Beiben cubic ٩hp ٣٤٠ meters mobile concrete mixer truck with pump | ۲۰ |
| ۵ .۴ | کانکریټو تیارولو ماشینونه، کانکریټ پلانټ یا بچنګ پلانټ (Plant Concrete ) | /h ٣m١٠٠ Mobile Concrete Ready Mixed Batching Mx Plant | ۲ |
| ۶ .۴ | ويالې پورته کونکی، لويې ويالې لفټ، له لويې ويالې جګونی. ( elevator Canal) | T; Mini ١ manned elevator ١٠elevates meters self-moving steering cylinder aluminum alloy manned lifting platform | ٤ |
| ۷ .۴ | کرین، پورته کونی (Crain) | XCMA QAY٢٠٠: High Quality Used All Terrain Crane ٢٠٠ Tons XCMA QAY٢٠٠ Mobile Truck | ٤ |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸ .۴ | کېښ کونی ماشين، کمپتکتور Compactor | ZM-۱٤ and C-۱۰۰ | ۲۰ |
| ۹ .۴ | اوارونی يا رولر Roller | YH-JS٦۰۰۰ | ۱۰ |
| ۱۰ .۴ | د سيخانو کټ کونی او پرې کونی ( Steel Bar Cutter (and Bender Machin | FAST-۸ intelligent F۸ | ٤ |
| ۱۱ .۴ | د کانکرېټو تومانچه، يا ګن شوټر يا کانکريټو ويشتونکی ( shooter Concrete gun) | Electric/diesel mortar spraying machine | ٤ |
| ۱۲ .۴ | په کانکريټو کې د پربوړکی يو ميچې اله، اير کانټينټ وسايل (Air Content Tools) | CA-۳ ۷L Indicator air content meter/Air Volume Meter Tester/ Concrete Air Content Measuring Instrument | ۱۰ |
| ۱۳ .۴ | د کرنکريټو در نروېدو او ټيګېدو مچې وسايل، سلمپ سيټ ( Slump Set) | Slump cone set Sprayed steel Concrete Slump Tester | ۲۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴.۴ | هواويچې د مېچې الې يا وسايل يا د تودوخې ښودنې ماشين Temperature ) ( Measurements Machin | Laixin: Embedded wire thermometer for concrete | ۳۰ |

لښتيليک ۲.٦ کوش تپې وياليې د کاري وسايلو او توکو لړې کچې لېست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۶. ۷ د کوش تپې لويې ويالې کرنيزو ځمکو ډګر

د افغانستان کرنې او مالدارۍ وزارت د برنامې پاينې راپور په ستّه په درې برخو وېشلې.

,, پيلنۍ کروندې:. هغه کروندې چې لويې ويالې له لورې ګردۍ ( کره ) کېږي، کرنيزې کروندې او سويې کرنېزې کروندې ځمکمېچه يې ۵۵۰،۰۰۰ پېنځه سوه او پېنځوس زره اېکتاره يا (۲،۷۵۰،۰۰۰) جريبه ده.

دوېيمې کروندې:. هغه کروندې چې د کرکېلې وړ دي، د لويې ويالې، ويالې، کلو، بانډو سره، سره ځمکمېچه يې ۳۳۱،۴۹۸ درې سوه او يوه دېرش زره او ځلور سوه او اته نوي اېکتاره يا (۱،۶۵۷،۴۹۰) جريبه ده.

درېيمې کروندې:. هغه کروندې چې کرنې په کې کېږي، نباتات په کې کښت کوي ځمکمېچه يې [۲۷۶،۴۹۸.۳] يا ۲۹۸،۳۴۸ دوې سوه او اته نوي زره او درې سوه او اته ځلوېښت اېکتاره يا [۱،۳۸۲،۴۹۱.۵] يا (۱،۴۹۱،۷۴۰) جريبه ده. ،، ( سويم، ۲۰۱۹ زېږدی، ۱۱۰ چوپړی)

## ۶. ۸ د کوش تپې لويې ويالې ودانيزې برخې

۱. د لويې ويالې اوږدوالی ۲۳۶.۳۶۵۵ کيلو مېتره دی، پېړوالی يې په منځنۍ کچه ۱۰۰ مېتره، ژوروالی يې له ۲۲ مېتره څخه نيولې تر ۸،۵ مېتره، د اوبو د لوړوالي کچه په کانال کې ۶،۵ مېتره دی اوبه له امو سين څخه د کرکيلې کروندو ته لېږد وي، چې د حيرتان لويې لارې له پله څخه نيولې تر اندخوی تر منځنۍ پولې پورې له ليلې دښتې تېر په کې بېرۍ تګ راتګ کولی شي.

۲. لويه وياله لړ تر لړه په يوه ثانيه کې تر ۷۰۰ درېنګلې مېتر ډېرې اوبه په پنځې بنه لېږدولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځتېکړنو ته د فردوس ځتېکړنې.**

۳. د لويې ويالې د ښاخونو ګڼه ۳۰ او اوږدوالی يې ۵۴۴ کيلومېترو پورې رسېږي.

٤. سروندی يوه دانه دی چې پېنځه په څلور مېترو کې ۲۴ دانې وره لري.

۵. په لويو لارو او د باندو لارو او کشونو باندې ۳۹ دانې پولونه لري.

٦. د لويې ويالې پر اوږدو د اوبو ۱۰۳ دانې څارونديي لري.

۷. په تولو کې ۶۶ دانې وتري ( ورخ) ودانۍ لري.

۸. په سلګونو ۱۰۰ کيلومېتره سړکونه او په زرګونو کيلو مېتره کوشني د اوبو رسولو او غځولو ودانيزي برخې لري.

**۶. ۹ د کوش تپې لويې ويالې په کروندو کې د نباتاتو بڼې او له سلو برخه يې چې د کرنې وړ دي.**

۱. د نباتاتو ډول: غنم، له سلو ۲۵ يې کرنه؛ ۲. وربشي، له سلو ۵ يې کرنه؛ ۳. پټاتي، له سلو ۱۰ يې کرنه، په ملګنو او ښوره زاره ځايونو کې له سلو ۲۳ يې کرنه؛ ۴. باټنګڼ يا رومي، له سلو ۵ يې کرنه، په ملګنو او ښوره زاره ځايونو کې له سلو ۷ يې کرنه؛ ۵. جوار (ډيسې)، له سلو ۳ يې کرنه؛ ۶. توربانجان، له سلو ۵ يې کرنه؛ ۷. بادرنګ، له سلو ۵ يې کرنه؛ ۸. زرده کې، له سلو ۱ يې کرنه؛ ۹. مرچ، له سلو ۲ يې کرنه؛ ۱۰. ختکي، له سلو ۶۳ يې کرنه؛ ۱۱. هندوانې، له سلو ۶ يې کرنه؛ ۱۲. ممپلي، له سلو ۴ يې کرنه؛ ۱۳. اينګ، له سلو ۸ يې کرنه؛ ۱۴. پنبه، له سلو ۸ يې کرنه؛ ۱۵. کنجت، له سلو ۷ يې کرنه؛ ۱۶. وربېنم يا کتان، له سلو ۵ يې کرنه؛ ۱۷. پيسته، له سلو ۳ يې کرنه؛ ۱۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بادام، له سلو ۲ يې کرنه؛ ۱۹. منې، له سلو ۱ يې کرنه؛ ۲۰. انار، له سلو ۸ يې کرنه؛ ۲۱. د وچې مېوې ونې (ويښکي يا انګور، خورمانۍ، پندوک، ملخنۍ، ببرې، مندتي، خستي، ګستمغزې، غوزان، ګستملګنې او کېشتې)، له سلو ۶ يې کرنه ده. په ټوله کې ټول ټال له سلو ۱۴۵٪ کېږي.

## ۶. ۱۰ يوه کال کې په يوه جريب ځمکه د پيداوار پايله

۱. **کوکنار (اپين):** په يوه جريب ځمکه چې په کې کوکنار و کرل شي ۸ کيلو ګرامه پيداوار ورکوي، په روانېبر کې د هر کيلو ګرام بېيه ۱۲،۸۵۸.۰۰ افغانۍ چې ټول ټال يې ۱۰۲،۸۶۴.۰۰ افغانۍ کېږي.

۲. **غنم:** دا زموږ د ټاټوبي يوه د کرکيلې لرغونو غلو څخه دي، چې خورا اوږد لرغونی پېخليک لري او د سرغندويتوب پېر يې د بشريت پيل شيبو ته رسېږي، کره موده يې يې معلومه نه ده.

,, د افغانستان په ټولو ولايتونو کې غنم کرل کېږي، په ځينو برخو کې د للمي او په ډېرو سيمو کې د خړوبولو په بڼه کرل کېږي.
په يوه جريب ځمکه کې ۳۵ کيلوګرامه غنم د تخم په بڼه کرل کېږي چې له هغې څخه ۱،۰۵۰.۰۰-۱،۴۰۰.۰۰ کيلوګرامه غنم تر لاسه کې دی شي.
په يوه جريبه ځمکه کې د غنمو د کښت لګښتونه په اوسط ډول په لاندې ډول دي:

۱.۲. د غنمو تخم ۳۵ کيلو ګرامه - په اوسني شرايطو کې د ۱۰۰۰ افغانۍ يو سره سمون لري.
۲.۲. توره کيمياوي سره - نيمه کڅوړه (۲۵ کيلوګرامه) د ۳،۵۰۰ افغانۍ يو سره برابره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳.۲. سپينه کيمياوي سره - يوه کڅوړه (۵۰ کيلوګرامه) د ۲۵۰۰ افغانۍ يو سره برابره ده.

٤.۲. د ۵۰۰ افغانۍ يو د کرکيلي درمل (دارو يا دوا) شيندل.

۵.۲. د اوبو د غنمو د کښت ټول لګښت (سيند، وياڵې اوبه) په هر جريب کې ۷،۵۰۰ افغانۍ دي که چيرې اوبه وړيا وي.

٦.۲. که له دې څخه د خرڅو نرخ راکم (تفريق) کړو، د يوه جريب ځمکې په بدل کې د کروندګر له پاره ۲۸،۰۰۰.۰۰ اته ويشت زره افغانۍ ترلاسه کېږي، که چېرې ځمکه د کرونده ګر خپله کرونده وي.

۷.۲. که ځمکه د بل تن وي او کروندګر يې په نيمايي برخه کرلې وي، په يوه جريب کې د کروندګر کره بچت ۱۴،۰۰۰.۰۰ افغانۍ ده.

۸.۲. که ځمکه د بل تن وي او کروندګر يې په اجاره کري، د هر جريب کره بچت (راګرځيدنه) کروندګر له پاره ۱۸،۰۰۰.۰۰ افغانۍ ده.

۹.۲. که ځمکه للمي (په بيديا کې يوازې له باران څخه خړوبېږي) وي، په يوه جريب کې د کرونده ګر کره بچت (راګرځيدنه) ۱۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ ده.

۱۰.۲. که ځمکه خړوبه او اوبه و پېرودل شي، په يوه جريب کې ۱۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ د کرونده ګر کره بچت (راګرځيدنه) يا ګټه ده.

۱۱.۲. **د غنمو پايله:** په يوه جريب ځمکه چې په کې غنم و کرل شي پيداوار يې په منځني ډول ۱،۰۵۰ کيلوګرامه چې په روانپېر کې د هر کيلوګرام بيبه ۲۵.۷۲ افغانۍ ده، د ټول پيداوار بيبه يې ۲۷،۰۰۰.۰۰ افغانۍ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



٢. ١١. ١. **غنمو د پايلې لومړۍ يادونه:** د ملا امام سره مرسته (حق الله)، لسمه برخه او ماليه د ځمکې د خاوند په غاړه ده.

٢. ١١. ٢. **غنمو د پايله دوېيمه يادونه:** که ځمکه د کرونده ګر پورې اړه ولري، ٣٥ کيلوګرامه + ١٠٥ کيلوګرامه + ٧٠ کيلوګرامه هم د کرونده ګر له برخې څخه کمېږي.

٢. ١١. ٣. **غنمو د پايلې درېيمه يادونه:** د ماشين کار اجوره د غنمو د بوسو له پلور څخه ورکول کېږي.

## ٣. زعفران:

**١.٣. زعفرانو د لومړي کال پيداوار:** په افغانستان کې زعفران په لومړي کال کې پيداوار نه ورکوي، خو په دوېيم کال (د پيداواراتو په لومړي کال) کې د هر جريب ځمکې له پاره ٢٠٠ کيلوګرامه د زعفرانو پياز او تر ٢٠٠ ګرامو پورې وچ زعفران د کروندګر له پاره پاتې کېږي.

**٢.٣. زعفرانو د دوېيم کال پيداوار:** د پيداوارو په دوېيم کال (د کښت درېيم کال) کې، د هر ٢٠٠ کيلو ګرامه زعفرانو پيازو برسېره، د ٢٠٠ څخه تر ٣٠٠ ګرامه وچ زعفران په يوه جريب ځمکه کې کرونده ګر ته پاتې کېږي.

**٣.٣. زعفرانو له درېيم څخه تر پېنځم کال پورې:** په دې موده کې به د زعفرانو لوړ وزن د کروندګر له پاره د هر جريب ځمکې په هر ٢ تنه پيازو (پيداوار) بر سېره له ٣ څخه تر ٦ کيلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرامو وچو زعفرانو پورې وي او د کرونده ګر د پیازو پانګه به له ٦ څخه تر ١٠ ټنو پورې لوړه شي.

٣.٤. **زعفرانو له شیږم او اووم کال:** په دې کلونو کې د کرل شوي زعفرانو اندازه کمېږي او په هر جریب ځمکه کې له ۳ تر ۴ کیلو ګرامو وچو زعفرانو ته رسیږي، خو د پیازو اندازه له ١٢ څخه تر ١۴ ټنو پورې لوړیږي.

٣.٥. **د زعفرانو د کښت لګښت:** د زعفرانو د کښت له پاره لومړی ګام د مناسبې ځمکې شتون دی چې د هېواد په هره برخه کې توپیر لري.

٣ . ٥ . ١ . د غواګانو او پسونو د سرې چمتو کول: دا سره هم خورا مهم ده او په هر جریب کې تر ٦١٠٠ افغانۍ پورې لګښت لري.

٣ . ٥ . ٢ . د زعفرانو پیاز چمتو کول: د زعفرانو پیاز پېرودل هم د زعفرانو د کښت یوه مهمه برخه ده، د پیازو بیه، د پیازو په کیفیت او ډول پورې اړه او هر کال توپیر کوي.

د زعفرانو د هر کیلوګرامه پیازو بیه ۵۰ افغانۍ ده او په یوه جریب ځمکه کې د کرلو له پاره دوه ټنه یانې دوه زره کیلوګرامو پیازو ته اړتیا ده، چې له سل زره افغانۍ یو سره برابره ده.

## ٣.٦. د زعفرانو د ساتلو لګښت:

هر کرنیز پیداوار (محصول، تولید) ساتنه یوه لګښت لري، زعفران هم یوه ځانګړی لګښت لري او د هغې دکیکې اندازې معلومول اسانه کار نه دی، دا څو کلونو څېړنو ته اړتیا لري.

٣.٧. **د زعفرانو پایله:** په یوه جریب ځمکه چې په کې زعفران و کرل شي پیداوار یې په منځني ډول ۲۵۰ ګرامه وي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځنډېدلو ته د فردوس ځنډېدل.**

اوسني وخت کې د هر ګرام بيه د امريکا متحده ایالتونو کې ۱۲۹۷.۵ افغانۍ ده، چې د ټول پیداوار بيه يې ۳۲۴۳۷۵ افغانۍ کيږي.

٤. **د پنبې کښت:** د پنبې کښت له ۳۰۰۰ کلونو راهيسې په افغانستان کې مشهور دی او ښې پايلې يې لرلې دي.

له دې پيداوارو څخه د استفادې په موخه د هېواد په بېلابېلو ولايتونو لکه: بلخ، کوندوز، پروان، هېلمند کې د نساجۍ او تېلو د توليد فابريکې جوړې شوې، چې د کورنۍ يو جګړو پر مهال بندې شوې او يا هم پخپله فابريکې خپل فعاليتونه پرې ايښي دي.

۱.۴ **د پنبې کښت:** دا بوټي د ۵ سانتي مترو په ژوروالي کې کرل کيږي، په يوه جريب ځمکه کې ۱۲۰۰۰ بوټي ښه وده کوي او د يوه جريب ځمکې له پاره ۸ کيلو ګرامه پنبې تخمونو ته اړتيا لري.

۲.۴ **د پنبې پيداوار:** په هر جريب ځمکه کې له ۷۰۰ څخه تر ۸۴۰ کيلو ګرامو پورې پيداوار ورکول کيږي.

۳.۴ **د پنبې بيه:** د افغانستان په هر ولايت کې د پنبې بيه توپير لري، خو د ورځنۍ يو معلوماتو له مخې د پنبې بيه يوه شان ده.

۷ کيلوګرامه د افغانستان په شمالي ولايتونو کې له ۷۰۰ تر ۸۰۰ افغانۍ يو پورې رسيږي او په کابل ښار کې له ۱۲۰۰ تر ۱۴۰۰ افغانۍ يو پورې پلورل کيږي.

۴.۴ **د پنبې د تخم بيه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياليې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

د پنبې ۷ کیلو ګرامه تخم د کښت بییه ۶۴۰ افغانۍ، خو د پنبې د تخم، غوړۍ یو د تولید بییه ۲۵۰ افغانۍ ده.

۴.۵. **د کونجاړې بییه:** د بېلابېلو ولایتونو په بازارونو کې د موسم او ډول له مخې توپیر لري، خو په منځني ډول د ۷ کیلوګرامو بییه ۶۰۰ افغانۍ ده.

۴.۶. **د پنبې غوړي:** د هر کیلو ګرام بییه په موسمونو کې توپیر لري، خو د هر کیلو ګرام منځنۍ بییه ۱٦۰ افغانۍ ده. په یوه جریب کې د پنبې د کښت لګښت:

۴. ۶. ۱ . د پنبې تخم ۷۳۲ افغانۍ.

۴. ۶. ۲ . توره او سپینه سره ۱۰۰۰۰ افغانۍ.

۴. ۶. ۳ . د ٤۰۰ افغانۍ یو دارو(دوا) پاشل.

۴.۷. **د پنبې د غوړۍ یو پیداوارو تر لاسه کولو ټول لګښتونه:** ۱۱,۱۳۲ افغانۍ.

۴.۸. **د پنبې پایله:** په یوه جریب ځمکه چې په کې مالوچ (پاغنده) و کرل شي پیداوار یې په منځني ډول ۷۵۰ کیلوګرامه پیداوار ورکوي. په اوسني وخت کې د هر کیلو ګرام بییه ۱۴۳ افغانۍ ده، د ټول پیداوار بییه یې ۱۰۷۲۵۰ افغانۍ کېږي.،، د لیکوال ژباړه او غځونه ( حشمت الله، ۲۰۲۳ زیږدی، د پیلنۍ برخې ۳ چوپړی او د پاینۍ برخې ۱، ۲ او ۳ چوپړی.)

۵. **پایله:**

۵.۱. په یوه جریب ځمکه چې په کې کوکنار و کرل شي ۸ کیلو ګرامه پیداوار ورکوي، په روانپېر کې د هر کیلو ګرام بییه ۱۲۸۵۸ افغانۍ چې ټول یې ۱۰۲۸٦۴ افغانۍ کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

۲.۵. په يوه جريب ځمکه چې په کې غنم و کرل شي پيداوار يې په منځني ډول ۱۰۵۰ کيلوګرامه چې په اوسني وخت کې د هر کيلوګرام بيه ۲۵.۷۲ افغانۍ ده، د ټول حاصل بيه ۲۷۰۰۰يې افغانۍ کېږي.

۳.۵. په يوه جريب ځمکه چې په کې زعفران و کرل شي پيداوار يې په منځني ډول ۲۵۰ ګرامه حاصل (پېبرور) ورکوي. په اوسني وخت کې د هر ګرام بيه د امريکا متحده ايالتو کې ۱۲۹۷.۵ افغانۍ ده، د ټول حاصل بيه يې ۳۲۴۳۷۵ افغانۍ کېږي.

۴.۵. په يوه جريب ځمکه چې په کې مالوچ (پاغنده) و کرل شي پيداوار يې په منځني ډول ۷۵۰ کيلوګرامه پيداوار ورکوي. په اوسني وخت کې د هر کيلو ګرام بيه ۱۴۳ افغانۍ ده، د ټول پيداوار بيه يې ۱۰۷۲۵۰ افغانۍ کېږي.

د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې اداري راپور پر بنسټ، تاجيکېستان له سلو ۶۲، افغانستان له سلو ۲۷، اوزبېکېستان له سلو شپږ اعشاريه درې، تورکمېنېستان او کېرغيزېستان له سلو دوې، دوې د امو سين اوبه جوړ وي، چې په دې لړ کې افغانستان له اوږدو کلونو راهيسې نه يوازې چې له خپلو اوبو ګټه نه ده اخيستې بلکې د دغه هېواد د خاورې يوه برخه هم د امو سين د اوبو خوراک شوې ده.

بل لورې ته زموږ د کوش تپې لويه وياله له اوزبېکېستان هېواد او پولې لورې خپلې اوبه نه دي اخستې، د تاجکېستان پولې لورې څخه مو اخستې. اوس، اوس مو د اوبو اخستلو ځای زموږ خپله برخه داسې ځای ټاکلی دی، چې د اموسين ډېره برخه يې زموږ لورې ده، او غرنۍ غرګۍ (کوشنۍ غرډوله غونډۍ) يې تاجيکېستان لورې ده. چې په دې ټکي کې هېڅ ډول سره د سين لورې څوک نه شي له ځايه ګرځولی.

زموږ لويه وياله که د اوبو له کمتون سره مخ شوه او داسې يې شونې نه کړه چې د اندخوی کروندې خروب کړو يا لويه وياله تر هغه ځايه (۲۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياله جوړولو په وړاندې د اوزبېکبېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

کيلومېترۍ) يا تر ويالې تر پايه و نه رسوي نو له ملاترې لويه وياله ورته د کوش تپې له ټاکلي تکي څخه اخلو چې د کوندوز سين څخه يې سروندی ( اينتيک، سربند) په لس کيلو مېترۍ کې د پيلنۍ ويالې له ډډ (کالدارې ويالې) څخه واټن لري. چې د ابو سرچينه يې د باميانو او سلنګونو د هندوکوش له د واورېژونو لوړو غرونو لړۍ څخه سرچينه اخلي، له بغلان څخه تېرېږي او په کوندوز ور ګډيږي.

,, د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د لومړي ځل له پاره اوبو ته پاملرنه و شوه، د شريکولو تړونونه او يوازې وروسته پاملرنه د اوبو په توګه لوی بندونو ته واړوله؛ په منځنۍ اسيا کې د زېربنا کنټرول (Wegerich et al.، ۲۰۰۷). سميټ (۱۹۹۵)
د اوبو شريکولو ترتيباتو ته په کتلو سره، استدلال کوي چې ,, په نړۍ کې هيڅ ځای نه شته د زېرمو پر سر د شخړو شونتيا دومره پياوړې دی لکه په منځنۍ اسيا کې. ،، د شوروي اتحاد له ړنګېدو راهيسې په دې اړه بحثونه روان دي.
د اوبو په شتون او تخصيص باندې د لويو بندونو اغېزې
د امو سين حوزه. په هر صورت، تر نن ورځې پورې دواړه سيمه ايز او هم نړۍ وال بحثونه د اټکلونو، انګېرنو او انګېرنو له خوا خورا اغېزمن شوي، معتبر معلومات يوازې لږ شتون لري.
د منځنۍ اسيا جمهوريتونو د خپلواکۍ څخه مخکې، غالب د اوبو کارول د منځني او لاندې اوبو سرچينو په اوږدو کې د اوبو لګولو له پاره وو، د ارال بحيرې برخې. د اوبو لګولو ساحه په ډراماتيک ډول زياته شوې له ۱۹۶۰ څخه تر ۱۹۹٤ پورې کله چې، د TACIS ۱۹۹۵ راپور پر بنسټ، ټولټال د ارال په حوزه کې د اوبو لګولو ساحه اعظمي حد ۷,٤۰۰,۰۰۰ ابکتاره ته رسيدلې (تانتون او جنت، ۱۹۹۹).
د مرکزي سياسي او اقتصادي خپلواکي
د آسيا جمهوريتونو د يوه شمېر بدلونونو پايله درلوده. په داسې حال کې چې ښکته د ازبېکېستان او تورکمېنبستان جمهوريتونو هڅه و کړه چې خپل اوبولګولو ټينګ و ساتي، د تاجيکېستان او کېرغېزېستان جمهوريتونه، لږ څه لري، د انرژۍ رسولو د ښه کولو له پاره نور انتخابونه، نوي بندونه جوړ او ترميم شوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

د اوبو د برېښنا تولید زیاتولو له پاره د موجوده بندونو عملیات.
د یخنۍ او واورې وریدل د ټولو ولایتونو د هوساینې له پاره اړین دي
د منځنۍ اسیا او د دوی د اوبو اړتیا ۹۰٪ له سلو نوي پوره کوي.
هواوېچې ( اقلیم) بدلون، د ګلیشیرونو د ګړندی غوځېدلو لامل کېږي،
کوم چې په پوره کولو کې مرسته کوي.
په لنډ پېر کې د دولتونو د اوبو اړتیاوې، مګر په اوږد پېر کې د تودوخې
کمېدل او د بخار لېږد ډېروالی نتیجه به ورکړي. برسېره پر دې د اقلیم
بدلون په فریکونسۍ باندې اغېزه لري، د سختې وچکالۍ بېړه یا شدت،
د استثنایي زیاتوالي په پایله کې د اوبو کمښت لکه څنګه چې د ۲۰۰۰-
۲۰۰۲ په اوږدو کې د امو سین په ښکته برخه کې رامنځ ته شو.
په ځانګړې توګه د وچکالۍ شرایطو له امله، د اوبو ډېر مصرف په
منځنۍ آسیا کې سرچینې او د خاورې مالګین کول د اوبو مهم عوامل
پاتې دي؛
د فشار ستونزې. د اوبو په ټولیز مقدار کې د کمښت په پایله کې د څښاک
د اوبو شتون د زغم وړ مالګینتوب کچه محدوده ده (کیوموف او
اکراموا، ۱۹۹۷) او د اوبو امنیت په جدي توګه له خطر سره مخامخ
دی.
لکه څنګه چې په ډېری نورو وچو او نیمه وچو زونونو کې، په مرکزي
کې سطحي اوبه د آسیا په پراخه کچه سینونو د زېرمو د پراخو سیسټمونو
له خوا تنظیم کېږي، د اوبو په څه رنګوالي او کچې دواړه اغیزه کوي.
د لویو بندونو مدیریت او زېرمې د اوبو د څه رنګوالي (کیفیت) د ښه
کولو له پاره یوه اغېزمن اقدام دی، شتونلرونکي زېربناوې د پخوا څخه
د ترمیم شوي کارولو له لارې د خوندي اوبو رسولو کې مرسته کوي.
له همدې امله د دې مطالعې اصلي ساحه معرفي کول دي، د لویو بندونو
او زېرمو ظرفیت د تطبیق وړ وسیلې په توګه په امو کې د اوبو د دوامدار
مدیریت ستراتیژي پلي کول روښانه کوي.
د اموډنډوکی حوض تر دې مهاله یې یوه شمېر مطالب هم په بېلابېلو
خپرونو کې خپاره شوي دي، انفرادي خپرونې او په مرکزي آسیا او د
اروپا په کنفرانسونو کې. د دې له پاره چې د یوه ډېر جامع انځور وړولو
له پاره دا پانه هم د یوه ځای کولو موخه ده.
د پخوانۍ یو موادو تالیف سره د نوي بصیرت معرفي کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځښکړنو ته د فردوس ځښکړنې.**

موږ هيله لرو چې دا ترکيب به ځوان ساينس پوهان چمتو کړي او تاسيس کړي، متخصصين په مرکزي آسيا کې د نوي ليوالتيا سره موضوع ته د لومړي ليد سره وړاندې کوي.

## ۶. ۱۱ امو سين د سيمو د اوبو لښتيليکه ( هايدروګرافي)

د امو سين په ټوليزه توګه د ۷۹٫۳ km³/a په سرعت سره، په منځنۍ اسيا کې تر ټولو لوی سين دی، دا د خپل اصلي سر اوبو د سنګم له خوا رامنځته کيږي، د وخش او پينج سينونه د امو مرستيال سينونه دي. د امو سين ټول اوږدوالی د پنج سين له سر څخه تر ارال سمندرګي پورې شا او خوا ۲٫۵۴۰ کيلومېتره دی، د سين له سنګم څخه اوږدوالی ۱٫۴۱۵ کيلومېتره دی. (فروبريچ او کيوموف، ۲۰۰۴). د امو سين د حوزې د نيول کيدو ساحه (شکل ۱).
۳۰۹٫۰۰۰ کيلو مېتره مربع لري او د افغانستان او څلور مرکزي له خوا شريک شوی.
اسيايي جمهوريتونه: کېرغېزېستان، تاجيکېستان، تورکمېنېستان او اوزبېکېستان.
د امو سين کلنۍ جريان د سين له پورته او پورته څخه تنظيميږي د لويو بندونو په واسطه ښکته. په پورته ساحه کې دا ناورک او دي د روګون بندونه، او د لاندې زېرمې ساحه د نفوذ له خوا مشخص کيږي،
د Tuyamuyun د هايدرو انجينرۍ کمپليکس (THC).
د امو سين مرستيال وخش سين له الپين سيمو څخه سرچينه اخلي، د پورته پامير د کېرغېزېستان په سويل ختيځه سيمه کې، چېرې چې ځينې برخې د ابراموف ګليشير او د فيدچينکو ګليشير د تيښتې په نسل کې مرسته کوي.
دغه سين د کېرغېزېستان له شمال څخه د تاجيکېستان جنوب لوېديځ ته بهيږي.
۲۶ انځور. د امو سين حوزه چې د هغې اصلي برخه او د روګن، ناورک او بندونو سره Tuyamuyun Hydro Complex (THC).
له پنج سره تر سنګم پورې، وخش ۵۲۴ کيلومېتره اوږدوالی لري، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۷۵ چوپړی** **د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

په تاجيکېستان کې د ۳۱,۲ زره کيلومېتره مربع ساحه. تر ټولو سترې سينونه د وخش څخه مکسو او اوبيهينګو دي (ملګري ملتونه، ۲۰۰٤).
د ناورک په ساحه کې د وخش سين اوسط کلنی جريان،
بند د ۲۰ km³ سره برابر دی؛ د ۲۳ km³ د ځغاستې ۱۰٪ احتمال شتون لري، او a ۹۰٪ احتمال چې جريان به له ۱٦,٦ km³ څخه زيات نه وي. Giese et al. (۲۰۰۴)
د وخش او وسيلې له پاره د ۲۰,۰ km³/a کلنی اوسط خارج کې دو راپور ورکړئ، د پنج له پاره د ۳٤,۳ km³/a خارج کول. وخش يوازې ۲۵٪ ونډه لري،
د امو سين ټول منځنی جريان (۷۹,۳ km³/a).
پنج په واکججير دره کې د ګليشير څخه سرچينه اخلي او د ګاليشير څخه جوړيږي.
د افغانستان او تاجيکېستان ترمنځ پوله د پنج سينونه دي،
په افغانستان او تاجيکېستان کې شتون لري. د افغانستان مهمې برخې واخان، پامير، بدخشان او کوکچه دي. له لويو څانګو څخه د تاجيکېستان په پنج کې ګونټ، بارتنګ، وانچ او کيزيلسو دي. وروسته د وخش او پنج له سنګم څخه د امو سين اوبه ترلاسه کيږي.
کوندوز (د افغانستان څخه)، کافرنيګان (د تاجيکېستان څخه)، او د شيرآباد او سورخندريا سينونه (د اوزبېکېستان څخه) د افغانستان سينونه خلم، بلخ، سرپل او شيرنتنګ تر ډېره په سيمه ييزه کچه مصرفيږي او امو سين ته په ندرت سره رسيږو (احمد او وثيق، ۲۰۰۴).
د امو دريا د هايدروولوژيک رژيم په واسطه تشريح کې دی شي،
د کلني جريان حجم غير مساوي وختي توزيع ، شا او خوا ۸۰٪ سره د اپريل څخه تر سپتمبر پورې موده کې. ترټولو لوی مقدار په منځ کې رامنځ ته کيږي، اوړي د بر پامير په غرونو کې د واورو او ګليشيرونو د خړوبولو له امله.
د ۱۹۵۷ څخه تر ۱۹۸۰ کلونو په موده کې د سيمې ګليشيرونه له لاسه ورکړل، ۱۲٦ km³ يخ (شاوخوا ۱۱۳ km³ اوبه) د اقليم د بدلون له امله رامنځته کيږي. دا مقدار په ۱۹۵۷ کې د يخ د ټولو زېرمو ۱۹٪ جوړوي (ملي د اقليم د بدلون په اړه د اوزبېکېستان جمهوريت کميسيون، ۱۹۹۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عادي جريان رژيم په مياشتني اوسط ډول د تېت څخه خارجيږي امو سين د تویامیون هایدرو کمپلیکس (THC) په ساحه کې دی.
په ۲۷ انځور کې د حوالې سټیشن درګاناتا (۱۹۸۱-۲۰۰٦) له پاره وړاندې شوی.
۲۷ انځور. د امو سين د تېتې امو سين له پاره د مياشتني اوسط اخراج په درګانتا کې ثبت شوی سټیشن، ۱۹۸۱-۲۰۰٦.
دلته، د سين د جريان زياتوالی په اپريل / مې او جريان کې پيل کيږي د هر کال په جولای کې اعظمي حد ته رسيږي. دا په لوړه کچه خارج ته اشاره کوي، اوړي او په ژمي کې تر ټولو ټېټ، د عمومي اوبو څخه خپلواک شتون له پخوانۍ يو وختونو راهيسې دا ځانګړی جريان رژيم د خپل سيلاب سره په اوړي کې اعظمي د اوبو په برابرولو سره د اوبولګولو ملاتړ کوي او وخت ته اړتيا لري.،، (۴ څېړونکي يا د ريسرچ ډله ايز ډله، اوليوېر اولسين، مېلاني باوېر، مليکه اکراموا، جوچين فريوبريچ ۲۰۰۸ زېږدی، ۳ څخه تر ۶ چوپړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.**

## ۶. ۱۲ افغانستان د ټولو وګړو غوره ورمونه ( نصيحتونه) د خپلو اوبو په تړاو

موږ د ټاټوبي د پولې اوبو څخه هېڅ ګټنه نه ده اخستې، د ګاونډيانو سويې ګونډيتوب له لورې څخه چې د کاله له ور څخه يې بلواګر، تړاکګر، سويې سوکلۍ، نه امنۍ ځواکونو او يرغلګرو ځواکونو ته لار ور کړې، پرې راغلې دي چې زموږ د ټاټوبي انډول (تعادل) يې په ټوله نړۍ کې ګډ وډ کړی دی. په يوه بانه او بله بانه يې هر ډول ډلې ټپلې او غلې موخې پر کار کړې دي چې زموږ د ټاټوبي د نه بريا سبب کېږي. له تېرو څلوېښتو کلنو کې زموږ له پولې اوبو څخه د ګټنې نه اخيستلو له اړخه موږ ته په هر کال کې ۶،۴۵۶.۵۰۰ مېليونه ډالر تاوان را رسيدلی دی. په منځنۍ کچه د کوش تپې لويې ويالې نه بوږولو په پايله کې ټاټوبي ته هر کال (۶،۴۵۶،۵۰۰،۰۰۰.۰۰) شپږ بېليونه، څلور سوه او پېنځه شپېته مېليونه او پېنځه سوه زره ډالره تاوان رسېدلی دی، چې د سردار محمد داوود ګډۍ له پير ۱۹۷۰ زيږدي څخه د پيلنۍ تخنيکي هر اړخيزې پلټنې، څېړنې او سروې د توان کچه په مېچه کړو ټول ټال (۳۴۲،۱۹۴،۵۰۰،۰۰۰.۰۰) درې سوه او دوې څلوېښت بېليونه، يوه سلو او څلور نوي مېليونه او پېنځه سوه زره ډالره تاوان رسېدلی دی.

په پښتو کې دوې متلونه يا ( عربان چې ورته مثال وايي) ,, د زور ور اوبه په پېچومې خيږي ،، که موږ زور و درلود په زوره زموږ اوبه را څخه هېڅ زور ور په لوړه لورې نه شي اخستلی، دا خو مو لا خپل رښت (حق) دی؛ ,, په پردۍ اوبو ژرنده نه چلېږي ،، او ,, په ځنګله کې د ګيډړ کواله نه چلېږي.،، که هر څوک زموږ له پاره ځانونو څخه ځناور جوړ وي موږ بيا ځناورو ته د ځواب ور کولو توان زورنه لرو. ټوله منځنۍ اسيا هم يوه باچا لري، موږ د ټولې منځنۍ د اوبو انډون نه دی وران کړی او نه يې ګډوډ وو.

الحمد الله چې موږ مسلمانان يو او د مسلمانو له ډلې څخه يو، تل غوره او پاکې خبرې کوو د ژوند په هرو څارو کې د اوبو په څارو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

هم، نړۍ وال ټولو رښتو (حقوقو)، د چارپېریال رښتو ته د زړه له کومې درناوی کوو، د کوش تپې په سروندي کې له سلو لس ۱۰٪ اوبه در پربېږدو چې د اورال په جهیل کې چارپېریال ګډوډ نه کړي، له سلو دېرش يې ستاسو دوې ګاونډۍیو. نور په هېڅ ډول خپل د اوبو برخه نه در کوو او همدا زموږ د اوبو وار دی. هرګوره چې زموږ له درې لویو کروندو خړوبولو ښخه ورسته په ټوله کې اوبه ډېرې شوې هغه بیا د ټاکلي اوبانې ( میرو ) په لاس زموږ د ټاټوبي کرنې او مالدارۍ وزارت له لورې د بهرنیو چارو وزارت په خوله در خوشې کېږي.

د کوش تپې لویې ویالې پروژه چې ګټې اخستنې په منځنۍ کچه هر کال کې ۶.۴۵۶ بېلیونه ډالر ګټه لري، د ټاټوبي خوبونو رختیا کولو له پاره نه پرې دې چې دا خوبونه دې پرې شي او د دې خوبونو رښتیا کولو له پاره دې ټاټوبي سپېڅلو او غښتلو مېندو داسې زامن را وړي چې د نوموړې پروژې تر شاه د بریا له پاره د ژور علمي اندونو، وندونو، بوږولو، یادونو او روزنې ور کونو جغات ( هڅه یا کوښښ ) کوي، لکه: فضل الرحمن، اسدالله، محمد بصیر، حسام الدین، سید هاشم، محمد قاسم، عبدالقادر، عبدالرحمن؛ سید هاشم، محمد بهیر، محمد سیر، حکمتیار؛ سید نجیب، سخیداد، الیاس، اسدالله، محمد رفع، عتیق الله، نعمت الله، عبدالله، حمید الله، صفی الله، نورالهدا، عبدالشکور، محمد مصطفی، همایون، ولي محمد، عبدالروف، محمد صابر، انورالحق، عبدالغني، محمد حسن، هیبت الله.

## ۶. ۱۳ د اوبو په سر ماتو، ګوډو او شخړو د تړو تړل

د اوبو په سر د ماتو هغه برخو د اوبو د وېش چې ګاونډیان پرې په خپله خبره ولاړ نه وي، ګوډو هغه برخو د اوبو د وېش چې ګاونډیان پرې په خپله خبره په نیمه لار کې پرې ایښې وي او شخړو هغه برخو د اوبو د وېش چې ګاونډیان پرې په جګړو ته سره ولاړ شوي وي، د تړو تړل ته باید موږ په لویه کې په علمي تخنیکي پوهګړي پام لاندې په اوږد پرې بنه په خپل لید کې و لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لویې ویالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ځښکړنو ته د فردوس ځښکړنې.**

زموږ د ټاټوبي بېلې شوې برخې تل داسې جغات کوي چې هغه د وتخیلو خبره ،، پر واسکټ یې دعوا و کړه، یوه جیب در ته په خپله په برخه رسېږي.،، که زموږ په اوبو کې ونډه هم نه لري نه د خپلو ګټو او بډایه کېدلو له پاره زموږ په اوبو دعوا کوي چې که هېڅ نه وي نو یوه څخه کچه اوبه خو به په لاس ورشي. دا به داسې ښکارېږي چې نوموړې هېوادونه هېڅ نړیوالو ربنتو ته درناوی نه لري، موږ هم په هېڅ پېر کې دې ته چمتو او چابک په خبره و لاړ و وسو چې هرو ناستو او سترو ناستو کې ور سره ګډون کوو، خو د برخې پرېکړه، تړه په لیکي بڼه نه ور کوو چې دوی په راتلونکې کې پرې دعوه ګیر کېږي او ځان زموږ د برخې ښبتن بولي.

یوه لغمانی نکل دی چې ،، یوه ماشوم ښوونځی نه تږګی کاله ته راغی، مور ته یې ویل چې مورې لږ واټر خو راکړه؟ هغه غلې شوه او هېڅ یې و نه کړل؛ بیا یې ورته و ویل چې مورې لږ ایچ دوې اوو $H_2O$ خو را کړه؟ هغه بیا هم غلې وه او هېڅ یې و نه کړل؛ زوی یې ورته و ویل مورې په انګلیسې ژبه کې خو پرېږده په کیمیا کې خو بېخې کمزورې یې، وایم لږې اوبه راکړه. ،، دا مې د دې له پاره و ویل چې زموږ ډېری لوړ پوړې خاروکي او په ګډی ناست لوړ پوړي، د مور په ډول ټولو وګړو ته د اوبو په چمتو کولو کې بې اکسیره، کیمیاګر یا ګټور نه دي. اړوندې برخې اړینې باید هغه چې زدهکړه سپینې ته را اوباسې ځان پرې بسیا کړي.

په ټوله کې د پښتو هغه متل دی چې ،، اوبه په ډانګ نه بېلېږي،، په زور، ربړ، وېرې، ډار، رټلو، وروسته پاتې کولو، د دښمن پندولو په سره د اوبو ربنتې (قانوني) وېش نه کېږي.

اوبو د چارپېریال نړیوال ربنت له نظریې سره سم نورو هېوادونو ته په بهېدلو وړیا اوبو کې د اوبو د زېرمې هېواد یوازې له سلو ۱۰٪ یې د چارپېریال ساتنې له پار لرو برخو ته وړیا پرېښودلی شي، له پاتې ټولو څخه یې د خپلو اړینو اړتیاوو، پرمختللې کرنې له پاره خرچه کولی او مصرفولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر ښتکړنو ته د فردوس ښتکړنې.**

د پښتو دغه متل په ښه چې ,, ژرنده که د پلار ده هم په وار ده،، دا چې ژرنده د اوبو په مټه پيداور وړاندې کوي او اوس زموږ د اوبو وار دی، چې د خپلو ټولو وکړو او د اړوندو سيمو د وګړو د اوبو اړتيا په مدرنه او پرمختللي بڼه د تلل له پاره بډايه چمتو کړو.

په پرې کړې خبره داسې پرې کوم چې د بر پرېکړو ته لوموړيتوب ورکړو، ان د هغه د پايني استازي له پرېکړو او تړو ښخه د بر پرېکړه بره وي، هره پيکړه بايد د هغه له پرېکړو سره و تلل شي اړينه ده چې د هغه د پرېکړې ښخه به ټېټه وي، لوړه او بره به نه وي، د پينې بې شمېره ښېزونه او ۱۸۰۰۰ ټول علمونه هغه زوړه کړې د خپلو ژويو د ژونکو پنډولو له پاره، ځمکې او اسمانونه او څه چې د دوی په منځ کې دي يوازې بر زوکړه کړې. اوبه يې له اسمانه را ښځولي، ښځوبی کړي او کوي يې. اوبه يې د ژويو د ژونکو ژوند ګرځولی، له اووم اسمان ښخه بره د يوه ښخه تر بل اسمانه واټنه پورې يا اويا کاله مزل په کچه د اوبو لوړالي په کچه اوبو باندې د بر ښوکی ده او دی پرې د خپل بروالي په بڼه ناست دی. د ټول عالمونو پالنه کوي، د وکړو د هر ښېز ان د اوبو په سر ماتو، ګوډو او شخړو د تړو تړل يې په بشپړ ډول په رالېږلي کښلې قران کې کړې دي. له پامه يې تړې و نه غورځو د وګړو د رښتو په منځ کې د تړو تړلو په پېر تېرى کونکي و نه ګڼل شو.

د امو سين د بندونو او زېرمو رول په راتلونکي کې د اوبو رسولو په برخه کې د امو سين حوزه له پاره داسې سپيني ته را اوباسم چې په لنډه توګه، زما په اند، کوش تپې د امو او سين ترمنځ اړيکه عادلانه کوي.

۱. د اوبو د تعادل په اړه د منځنۍ اسيا هېوادونو اندېښنه او زموږ اندېښنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې وياڵې جوړولو په وړاندې د اوزبېکستان ولسمشر څېګړنو ته د فردوس څېګړنې.**

۲. منځنی اسيا هېوادونو او زموږ ټاټوبي د آمو سين څخه ګټه اخيستنه کچې مېچه.

۳. په امو سين کې د يادو هېوادونو د اوبو پيداوارو (توليد) ونډه او زموږ د اوبو پيداوارو ونډه.

٤. په شګلنو دښتو کې د اوبو ضايعات او د ځمکو ملګنېکېدو (ښوره زار کېدلو ) انديښنو او دغه ډول پلمو ته د دوی وړتيا او زموږ وړتيا. [ ۱:. په ستېندرډ ډول يې مخنيوي موږ کړی دی، په پيلنيو سرويګانو راپور کې شتون لري. ( مناسب لينګ، د جيومبران ګټنه، او ۴ ميلي ربړي پردې) څخه ګټنه. ۲:. ځمکه دومره تېزابي او ملګنې کوي نه لکه څومره چې د تره خيلو کانال ناولې او تورې اوبو چې د دهسبز ولسوالۍ ټولې کروندو باغونه يې وچ کړل، نومړو چېلو او ملګڼو اوبو موږ ته دا سړې تودې را يادې کړې چې په کروندو کې له باټينګڼو، مرچو، ګندنې او کچالوګانو څخه غوره پيداوار تر لاسه کړو.]

۵. د دوی انديښنه له ناسم مديريت څخه او زموږ روغ او سم مديريت. [ موږ په غوره نږۍ واله کچه خپله د کوش تپې لويه وياله په درې پلو وېشلې چې لومړی پل يې ۱۷ کروندې خړوبوي، او دوېيمه پل يې له دې کالدارې ولسوالۍ ځای پيل او په دولت اباد ولسوالۍ ټاکلي ځای پای ده چې ۲۰ کروندې خړوبوي. دريم پل يې له دې بلخ، چاربولک، اقچې ، شبرغان، خواجه دو کو ځای پيل او په خانه چارباغ او اندخوی ټاکلي ځای پای ده چې دومر ۱۳ کروندې خړوبوي. (سروندی يا سربند اينتيک، ښاخونه، بيالې، خاروندې، پولې، هدی، وترې، څرمې په بېلابېلو کچو لري له ودانيزو نغښتو ودانی يو سره.)].

٦. کوش تپې کانال ۱۳ بېليون مکعب مېتر اوبه مذاکره، تماس، آمارو تبادله او ارقام، اعتبار موندنه، ګډ مطالعات، وېش به اړه مذاکرات، سند رامنځته کول، تطبيقي ميکانيزم د سين.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷. د اوبو دروهه (توطئه)، نېنګتيا ( طمعې) غږک ( حسد) ته اړينه ده چې موږ د ژورې ډيپلوماسۍ او ځيرکتيا اوږ او زوږ ولاړ و وسو.

۸. په منځنۍ اسيا کې د اوبو تاسيساتو او د کرکيلې کروندې په داسې ډول جوړل چې افغانستان په جريان کې نه دی اچول شوی.

۹. د شلخې (مصنوعي) جزيرو رغولو ربنت، کروندو بوږول، اسانتياوو او ودانيو، د برمې کولو پلاټپارمونو د کېندنې له پاره د ټولو اسانتياوو څخه ګټه اخستنې په خپل خوښه يې واک او کنټرول لرل.

۱۰. د دوی له لورې له راغلو اوبو څخه چې کلنۍ تاوانونو موږ ته رسيدلې دي، د وړل شويو وګړو، کروندو او داسې نورو تاوان بايد ترې واخستل شي.

۱۱. د دوی له لورې د اوبو دروهه (توطئه)، نېنګتيا ( طمعې) غږک ( حسد) له دې لورې را ولاړېږي چې د اوبو په کمتون يې ځينې کروندې شاړېږي، د اوبو په برېښنايي بندونو کې تر لږ تر لږه ۲۰۰ مېګاواټه تاوان په يوه سانيه کې ورسيږي. چې کلنۍ تاوان يې له ۲۰۰۰ مېليونه ډالرو ډېر راځي، خو دوی ده دې له پاره په ټاټوبي کې په سياسي ګډۍ او ګډوډۍ په کال کې ۲۰۰ مېليونه ډالر لږ خرچه او په کار اچوي چې پورتنۍ دوې زره مېليونه ډالره کلنۍ تاوان ورته په اوږېپره بنه په هر کال کې و نه رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څېکړنو ته د فردوس څېکړنې.**

## ۶. ۱٤ وتيز تولنيز تړ (اقتصادي اجتماعي وضعيت)

په منځنۍ اسيا کې د تولنيز وتيز پرمختګ ښاخونه په لاندې بڼه دي.
لومړی:. افغانستان تولنه ګڼه ګونه ۴۰.۹ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۵ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۱۸۸۵ ډالره، د ژوند تمه: ۶۰.۴ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۱۳۵ درېنګلې مېټر دی؛ دوېيم:. ايران تولنه ګڼه ګونه ۸۰ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۷۸ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۱۵۴۳۹ ډالره، د ژوند تمه: ۷۵.۴ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۳۹۶ درېنګلې مېټر دی؛ درېيم:. کزاکېستان تولنه ګڼه ګونه ۱۷.۸ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۷۸ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۲۰۸۶۷ ډالره، د ژوند تمه: ۶۹.۷ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۵۸۹۵ درېنګلې مېټر دی؛ څلورم:. کېرغيزېستان تولنه ګڼه ګونه ۶ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۶۶ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۳۰۴۴ ډالره، د ژوند تمه: ۷۰.۶ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۴۳۵۲ درېنګلې مېټر دی؛ پېنځم:. پاکېستان تولنه ګڼه ګونه ۱۹۲ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۵۲ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۴۸۶۶ ډالره، د ژوند تمه: ۶۶.۲ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۱۵۰ درېنګلې مېټر دی؛ شپږم:. تاجيکېستان تولنه ګڼه ګونه ۸.۶ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۶۲ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۲۵۱۷ ډالره، د ژوند تمه: ۶۹.۴ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۴۲۳۲ درېنګلې مېټر دی؛ اووم:. تورکمېنېستان تولنه ګڼه ګونه ۵.۶ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۶۸ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۱۳۰۶۶ ډالره، د ژوند تمه: ۶۵.۶ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۱۲۴۰ درېنګلې مېټر دی او اتم:. اوزبېکېستان تولنه ګڼه ګونه ۳۰ ميلونه، د وګړو د پرمختګ ښاخونه: ۰.۶۷ دی، کلنۍ ملي ګټه: ۵۵۶۷ ډالره، د ژوند تمه: ۶۸.۸ کاله، کلنۍ د اوبو سپما (ساتلو کچه): ۸۰۱ درېنګلې مېټر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوش تپې لويې ويالې جوړولو په وړاندې د اوزبېکېستان ولسمشر څټکړنو ته د فردوس څټکړنې.

## ۶. ۱۵ د کوش تپې لويې ويالې پروژې وتيزې ګټې

,, د ټاټوبې په وتيزه طرحه کې د کوش تپې لويې ويالې پروژې د رغولو پېر ۹ کاله دی، چې د ګټنې پېر يې لړ تر لږه ۶۰ کاله دی او د ۱۲۰ کلونو له پاره يې ډيزاين په پام کې نيول شوی.
د ۹ کلونو په موده کې لږتر لږه بيليون د ډالرو سپما ته اړتيا لري، له دې ټول ټال څخه يوازې ۶۰۵ مېليون ډالره د پيلنيو شپږو کلونو له پاره له باندنيو زېرمو څخه تدارک کېږي او پاتې هاميانۍ يې د لويې ويالې له دننه نۍ يو عوايدو څخه تر لاس کېږي. د کوش تپې لويه وياله د وتيزې شننې په سټه ۴ څلور کاله ورسته په ګټنې راځي چې د ۷ اووم کال راټول کړي عوايد به يې ۱۸ ميلينو ډالرو له خرچه کړو هاميانيو ډېر وي. د کوش تپې لويې ويالې له بشپړ ولو څخه ورسته د پيلني کاله ګټه تر ۴۱۳ مېليون ډالرو وي چې کال په کال به يې عوايد لوړېږي، ۳۳ کاله ورسته به که لوی الله کول عوايد تر يوه بېليون ډالرو لوړ شي او ۵۶ کاله ورسته به د کوش تپې لويې ويالې کلني عوايد ۱۱.۵ بېليون ډالرو ته و رسېږي.،، (سويم، ۲۰۱۹ زېږدی، ۱۷ چوپړی)، (محمود، ۲۰۲۳ زېږدی ،۹ چوپړی)

## ۶. ۱۶ د وتيزې ارزونې لنديز

١. د کوماندې (امرورکول) شوې سيمه: ۲۴۵،۰۰۰ هېکټاره کروندې.
٢. د پام وړ فصلونو شمېر:۱۹ ډوله.
٣. د کښت شدت: له سلو ۱۱۰ ٪.
٤. اي ای آر آر يا (EIRR): له سلو ۱۹.۵۹ ٪
٥. د پروژې خرچه يا سپما، (ENPV): ۴،۶۷۹ مېليون ډالره.
٦. اي بي سي آر يا (EBCR): ۳.۹۵
٧. ايف ای آر آر يا (FIRR): له سلو ۱۶.۷۰ ٪
٨. ايف اين پي وي يا (FNPV): ۱۳،۸۳۷.۰۰ مېليون دالره.
٩. ايف بي سي آر يا (FBCR): ۶.۵۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰. د تيټې بيې (تخفيف) کچه: د ماليې له پاره له سلو ۵.۳۱٪ او وټيزه (اقتصادي) له سلو ۹ ٪

۱۱. د پروژې ژوند: ۶۰ کاله

۱۲. د پلي کولو موده: ۱۲ کاله

۱۳. د انفلاسيون کچه: له سلو ۵٪

۱۴. د چې ډي پي (GDP) د ودې کچه: له سلو ۲.۷٪

۱۵. خوزيدا او څارنې O&M کلنی لګښت: د پروژې ټول لګښت له سلو۲٪

(c) ketabton.com: The Digital Library



